هېڅ داسې يو بنده نشته چې الله تعالى د يو رعيت (چارې) ورترغاړې کړي، بيا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کيږي نو خپل رعيت لره غولوونکى وي، مګر دا چې الله تعالى به پرې جنت حرام کړي

له معقل بن يسار المزني رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: "هېڅ داسې يو بنده نشته چې الله تعالى د يو رعيت (چارې) ورترغاړې کړي، بيا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کيږي نو خپل رعيت لره غولوونکى وي، مګر دا چې الله تعالى به پرې جنت حرام کړي".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر هغه څوک چې الله تعالى د خلکو حاکم او مسوول وګرځوي، که هغه د شهزاده (امير) په څېر عمومي مسؤوليت ولري، يا خاص مسوولیت ولري لکه سړی او يا ښځه په خپل کور کې، نو په خپل رعيت کې يې کوتاهي وکړه، او دوکه يې وکړه او په اړه يې سپارښتنه ونکړه، ديني او دنيوي دواړه حقونه يې ورته ضايع کړل، نو د دې سختې سزا مستحق دى.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5335